## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**30 سنبله _سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان | صفحه


د مهاجرینو چارو وزارت او همکارو مؤسسو ترمنځ د همغږیو ناسته وشوه ---------------------------------------1
بیش از 100 خانواده در ولایت هرات از کمک نقدی مستفید شدند ----------------------------------------------2
غور کې لسګونه میرمنو ته کاري وسایل ورکړل شول --------------------------------------------------------------2
به 80 خانواده درولایت لغمان کمک نقدی توزیع شد------------------------------------------------------------3
بلخ کې له ۱۰۰ زیاتو کورنیو ته د وریو د اوبدلو وسایل ورکړل شول----------------------------------------------4
فرانسه له ایټالیا سره پولې ته ۲۰۰ نوي سرتېري استوي ------------------------------------------------------5
لاتویا د کډوالو د ورتګ د مخنیوي لپاره سیلېن سرحدي لار وتړله----------------------------------------------7
دستگیری نوجوانی که ۲۷ مهاجر را در یک بس قاچاق می کرد ---------------------------------------------9
لتونی گذرگاه مرزی با بلاروس را بست --------------------------------------------------------------------10
فرانسه: یک بریتانیایی به جرم قاچاق مهاجران به زندان محکوم شد ----------- Error! Bookmark not defined.
آلمان: ظرفیت پذیرش مهاجران به مرز نهایی رسیده است --------------------------------------------------11
اشتاینمایر خواستار «کنترول قوی‌تر» در مرزهای خارجی است --------------------------------------------11
ایتالیا و آلمان بر سر پذیرش مهاجران اختلاف دارند ---------------------------------------------------------12
چه کسی مسئول نجات مهاجران در بحر است؟---------------------------------------------------------------12
بحث در آلمان بر سر «سقف مهاجرت» دوباره تشدید شده است---------------------------------------------12
اطلاعیه وزارت کار وامور اجتماعی-----------------------------------------------------------------------------12

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو وزارت او همکارو مؤسسو ترمنځ د همغږیو ناسته وشوه

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینوچارو وزارت او د ملي او نړیوالو همکارو بنسټونو د همغږۍ ناسته د دغه وزارت د مشر تابه، د یادو بنسټونو د استازو او یوشمېر مرکزي رئیسانو په ګډون د وزارت د ناستو په تالار کې ترسره شوه.
په ناسته کې، د مهاجرینو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني وویل، افغان مهاجرین له ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان دي او لازمه ده چې له دوی سره په هر اړخیزه او ښه توګه همکاري وشي.
هغه زیاته کړه، زموږ موخه د دوی د ستونزو هوراول دي او کوربه هېوادونه باید له افغان کډوالو سره د نړیوالو قوانینو له مخې چلند وکړي.
نوموړي راستنېدونکو سره زیار زیاتي ته په اشارې وویل، چې د ژمي په رارسېدو سره به راستنېدونکو او بېځایه شوو ستونزې زیاتې شي او لازمه ده، چې بنسټونو او مرستندویه ادارې د ژمي د رارسېدو مخکې د خپلو همکاریو او د ژمنیو مرستو د وېش پلانونو چمتو او عملي کړي.
حقاني زیاته کړه، چې د ناستې د ترسره کېدو موخه د هوکړې، د لازمو همغږیو رامنځ ته کولو او د ستونزو حل دی لازمه ده، چې په راتلونکو میاشتو کې هم همداسې ناستو ته دوام ورکړو.
هغه له همکارو بنسټونو او مؤسسو څخه غوښتنه وکړه، چې بیړنۍ او بشري مرستې، چې په پلان کې یې لري باید له وزارت سره شریک کړي، تر څو امکاناتو ته په کتو سره په راتلونکي کې ګامونه پروته شي.
ورپسې د وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په خپلو خبرو کې د ستونزو په یادولو سره له کوربه



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

هېوادونو وغوښتل، چې د مهاجرینو د جبري راستنېدو څخه ډډه وکړي او له افغان مهاجرینو سره د نړیوالو قوانینو، مقرراتو او تړونونو مطابق چلند وکړي.
هغه له کډوالو هم وغوښتل، چې په خپله خوښه هېواد ته راستانه شي او په هېواد کې مناسبو شرایطو ته په پام سره د هېواد په پرمختګ کې ونډه واخلي.
د مرستو د همغږۍ رئیس شیخ عبدالرحمن رحماني هم خبرې وکړې او له بنسټونو او مؤسسو څخه یې غوښتنه وکړه، چې د لاسلیک شوو هوکړه لیکونو له مخې د یو بل سره په همکارۍ او همغږۍ کار وکړي او د مرستو د کمیت او کیفیت په لوړولو کې هڅې وکړي.

همدارنګه په ناسته کې د وزارت د مرستو د جلب آمر مولوي احمد طالب ځدران هم شتون درلود او د مؤسسو سره د هوکړه لیکونو د ستونزو د حل په لارو چارو خبرې وکړې او له بنسټونو څخه یې غوښتنه وکړه، چې په هره میاشت کې دې دې ته ورته ناسته ترسره شي.
د ملګرو ملتونو د مرستو د همغږۍ دفتر په استازیتوب شمس خلیلي ژمنه وکړه، چې د مهاجرینو چارو وزارت سره به د قوانینو او مقرراتو له مخې خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.
په پای کې د مؤسسو استازو د اجراتو د ښه والي په موخه خپل نظریات او ستونزې وړاندې کړې او ژمنه یې وکړه، چې د وزارت سره د ناستې جریان او غوښتنې به دخپلو ادارو له مسؤلینو سره شریکې کړي.

## بیش از 100 خانواده در ولایت هرات از کمک نقدی مستفید شدند

ویب سایت وزارت




112خانواده در ولایت هرات ، جهت اعمار و ترمیم سرپناه مساعدت نقدی را ازطریق ریاست امور مهاجرین انولایت به تاریخ 28 سنبله بدست آوردند.
خانواده های یاد شده که توسط هیأت اداره مهاجرین در ولسوالی گذره، سروی شده بودند، مساعدت انجمن مهاجرین ناروی را نظر به آسیب پذیری شان،در دو کتگوریهای مختلف از مبلغ 14 هزار الی 47 هزارافغانی دریافت نمودند.

## غور کې لسګونه میرمنو ته کاري وسایل ورکړل شول

د وزارت ویب سایت




**د غور ولایت د مهاجرینو چارو آمریت په دغه ولایت کې ۷۵ میرمنو ته د ورېي په ۲۸مه د کاري وسایلو د ورکړې خبر ورکړ.**

**په یادو مرستو کې ۱۶ قلمه توکي او د مېوو د پروسس وسایل وو، چې هرې میرمنې ته د شېړو میاشتو د مېوو د پروسس زده کړو وروسته د رازي تولنیزې او پراختیایي موسسې له لوري هغوی ته ووېشل شول.**

## به 80 خانواده درولایت لغمان کمک نقدی توزیع شد

ویب سایت وزارت




**برای 80 خانواده در ولایت لغمان کمک نقدی به تاریخ 28 سنبله توزیع شد.**
**این کمک بمنظورتداوی خانواده های مریض ، معتاد و بی سرپناه بوده که قبلا از جانب اداره مهاجرین آن ولایت شناسایی وکمک نقدی کمیته نجات بین المللی را در دو کتگوری مبالغ 10 و18 هزارافغانی بود دریافت نمودند.**

## بلخ کي له ۱۰۰ زیاتو کورنیو ته د وریو د اوبدلو وسایل ورکړل شول

د وزارت ویب سایت




**د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په دغه ولایت کې ۱۰۴ کورنیو ته د وړې په ۲۸مه د وړیو د اوبدلو وسایلو د ورکړې خبر ورکړ.**

**یادې کورنۍ د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لوري د فردوسي، قالین بافانو، عمر فاروق او معاذ ابن جبل د مهاجرینو ښارګوټو کې سروې او د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې، چې هرې کورنۍ ته د پکو مؤسسې له لوري د مهاجرینو چارو ریاست د استازي په شتون کې د وړیو د اوبدلو ماشین، ۵۰ کیلو پنبه، د غالۍ جوړونې ړمنځ او د لمریزې برېښنا تختې وویشل شوې.**

## فرانسه له ایټالیا سره پولې ته ۲۰۰ نوي سرتېري استوي

مهاجرنیوز




**د فرانسې د کورنیو چارو وزارت د سه شنبې په ورځ اعلان وکړ چې له ایټالیا سره پولې ته ۲۰۰ تازه دمه سرتېري استوي. دا وروسته له هغه چې تېره اونۍ د مدیترانې له لارې زرګونه کډوال د ایټالیا لمپېدوزا ټاپو ته ورسېدل .**

**د فرانسې د کورنیو چارو وزارت د سپټمبر په ۱۹مه وویل چې لمپېدوزا ټاپو ته د رسېدلو کډوالو لوړ شمېر ته په کتو سره له ایټالیا سره پولې ته ۲۰۰ نوي سرتېري استوي.**

**له دې سره د فرانسې او ایټالیا په سرحدي سیمه کې د امنیتي ځواکونو شمېر ۷۰۰ ته لوړېږي .ټاکل شوې ده چې دغه سرتېري د پولې په اوږدو کې دنده ترسره کړي او له ایټالیا څخه فرانسې ته د کډوالو د راتګ مخه ونیسي.**

**د کورنیو چارو وزارت زیاته کړې چې له دې وروسته به د کورنۍ امنیت عمومي ادارې کارکوونکي هم یاده سیمه کې دنده ترسره کوي. دغه کارکوونکي چې د اروپا د پولې ساتنې ادارې سره یې کار کړی دنده لري چې فرانسې ته د احتمالي ترهګرو د داخلېدو مخه ونیسي.**

**بیا ولولئ :د فرانسې د کورنیو چارو وزیر په ایټالیا کې: «اروپا ته له راتلونکو کډوالو سره جدي چلند کېږي»**

**د وضعیت د تحلیل لپاره «وخت ته اړتیا شته»**

**د روان میلادي کال له پیل راهیسې ایټالیا ته د رسېدلو کډوالو شمېر تر ۱۲۶ زرو اوښتي چې دغه شمېرې د تېر کال د همدې مودې په پرتله دوه چنده زیاتوالی ښیي. یوه اونۍ وړاندې تر ۷۰۰۰ ډېرو کډوالو یوازې د ۴۸ ساعتونو په جریان کې د مدیترانې له لارې ځانونه لمپېدوزا ټاپو ته ورسول.**

که څه هم د کډوالو دغې ځپې اروپايي ټولنه کې پراخ بحثونه راپارولي دي، خو ایټالیا کې د بې سرحده ډاکټرانو غړې سیسیلیا مومې کډوال نیوز سره خبرو کې وایي چې د نوو رسېدلو کډوالو شمېر «استثنايي» نه دی. هغه زیاتوي چې له کورونا مخکې ایټالیا ته د اوښتونکو کډوالو شمېر همدومره و.

همدارنګه د ایټالیا او فرانسې په سرحدي سیمه کې مرستندویه سازمانونه وايي چې د اوسني سیاسي وضعیت د تحلیل لپاره «وخت ته اړتیا شته». دوی زیاتوی چې تر دې مهاله یې د کډوالو د ځپې له درکه کوم فشار نه دی حس کړی.

هغه کډوال چې نه غواړي په ایټالیا کې پاتې شي له لمپدوزا ټاپو څخه د میلان، ناپل، تورین او یا روم له لارې ځانونه د ایټالیا سرحدي ښار ونتمیل ته رسوي. ونتمیل کې د کاریتاس سازمان مسول موریتزو مارمو وايي چې په تېرو څو ورځو کې دغه ښار ته د راتلونکو کډوالو په شمېر کې زیاتوالی نه دی راغلی.

امنیتي تدابیر

په تېرو څو وختونو کې فرانسوي چارواکو له ایټالیا سره پر پوله امنیتي تدابیر زیات کړي دي. د فرانسې د کورنیو چارو وزیر ژرالد دارمنن د سپټمبر په ۱۲مه مانتون ته د سفر پر مهال ویلي وو چې د «ناقانونه» کډوالۍ سره د مبارزې په موخه له ایټالیا سره پر ګډه پوله امنیتي تدابیر ډېروي.

بیا ولولئ :<u>فرانسه د کډوالو د راتګ د مخنیوي لپاره له ایټالیا سره پر پوله امنیتي تدابیر زیاتوي</u>

نوموړي زیاته کړې وه چې د کورنیو چارو وزارت فرانسې ته د کډوالو د راتګ د مخنیوي لپاره سیارو واحدونو کې د سرتېرو شمېر له دو کسانو څخه څلورو ته لوړوي. په وینا یې د شپې له خوا د آلپ غرنیزو سیمو کې د ګزمه کوونکو پوځیانو شمېر هم له ۶۰ څخه ۱۲۰ ته پورته کېږي. ژرالد دارمنن دا هم ویلي وو چې د ګمرک کارکوونو شمېر هم دوه برابره کېږي.

څو میاشتې مخکې د فرانسې لومړي وزیر الیزابت بورن هم آلپ – مریتیم سیمه کې د «کډوالو د فشار د کمولو «لپاره د «سرحدي قطعې» د جوړېدو خبر ورکړی و .

## لاتویا د کډوالو د ورتګ د مخنیوي لپاره سیلېن سرحدي لار وتړله

مهاجرنیوز



**لاتویا وايي چې له بېلاروس څخه د اوښتونکو کډوالو د مخنیوي لپاره یې سیلبڼ سرحدي لار تړلې ده .د چارواکو په وینا په تېرو څو وختونو کې د هغو کډوالو شمېر کې زیاتوالی راغلی چې غواړي ځانونه لاتویا ته ورسوي .**

**دا وروسته له هغه چې د لاتویا لومړۍ وزیرې اویکا سیلینا پر بېلاروس تور ولګاوه چې د بالتیک د دغه کوچني هېواد امنیت ته د زیان رسولو په موخه له کډوالو څخه «ابزاري ګټه» پورته کوي او د دوی په لور یې تېل وهي.**

**نوموړې له بېلاروس سره پر پوله وضعیت »ترینګلی» او د اندېښنې وړ وباله او زیاته یې کړه چې د اوښتونکو کډوالو لوړ شمېر ته په کتو سره یې د سه شنبې په ورځ د اګست په ۱۹مه سیلبڼ سرحدي لار وتړله.**

**بیا ولولئ :<u>لاتویا د سپیني روسیې سره سرحد باندې د مهاجرو ریکارډ شمېر ثبت کړی</u>**

**د لاتویا خبري اژانس لېټا د خبر له مخې په تېرو شپږو ورځو کې د دغه هېواد پوله ساتو ځواکونو له بېلاروس څخه لاتویا ته د ۸۹۴ کډوالو د ننوتو مخه نیولې ده. یاد آژانس زیاتوي چې د سپټمبر د میاشتې له پیل راهیسې ۱۷۷۳ کډوالو هڅه کړې چې له بېلاروس څخه ځانونه لاتویا ته ورسوي.**

**لاتویا شمالي اروپا کې پروت هېواد دی او له بېلاروس سره پر پوله دوه سرحدي لارې لري چې یوه یې سیلبڼ نومېږي. د دغې لارې په ساتنه کې ۵۰ سرتېري برخه لري .**

**بل پلو بیا د بېلاروس پوله ساتو ځواکونو پرون پر خپله وېبپاڼه ولیکل چې سیلبڼ لار د تګ راتګ پرمخ پرانیستې ده او د لاتویا چارواکو د پولې د تړل کېدو په اړه خبر نه دی ورکړی.**

**بیا ولولئ :<u>پولنډ له بېلاروس سره پولې ته ۱۰ سره پوځیان استوي</u>**

لاتویا په پام کې لري چې د پولنډ او لیتوانیا په څېر د روان کال تر پایه پورې له بېلاروس سره پر پوله د خنډونو جوړولو کار پای ته ورسوي.

په ۲۰۲۱ کې زرګونه کډوالو چې ډېری یې د منځني ختیځ او افریقا څخه وو هڅه وکړه چې اروپایي ټولنې ته د رسېدو لپاره له بېلاروس څخه لاتویا، لیتوانیا او پولنډ ته واوړي. پر دغو هېوادونو تور دی چې کډوال یې په تاوتریخجنه طریقه له پولې څخه په شا تمبولي دي.

## دستگیری نوجوانی که ۲۷ مهاجر را در یک بس قاچاق می کرد

مهاجرنیوز



پولیس فدرال در کراوشویتس، زاکسن، یک نوجوان ۱۵ ساله مفقود شده را در یک بس کوچک که ۲۷ مهاجر را به آلمان قاچاق می نمود، دستگیر کرد. پولیس آلمان از چند ماه به این طرف در جستجوی این نوجوان سوریایی بود.

این نوجوان از سوریه پیش از این تقریباً دو سال در ایالت تورینگن اقامت داشت و تحت سرپرستی در لیله های کودکان و نواجان قرار داشت. پولیس لودویگسدورف گفته است که او در ماه آگست فرار کرده و از آن زمان تحت تعقیب بوده است.

این نوجوان ۱۵ ساله به پولیس گفته است که گواهینامه رانندگی ندارد و چند روز پیش رانندگی را یاد گرفته است. فعلا این نوجوان دستگیر شده و روز سه شنبه قاضی برای او دستور بازداشت تحقیقی را داده است.

پولیس اواخر عصر دوشنبه بس کوچکی را که نمبر پلیت سویدن را داشت با این نوجوان و ۲۷ مهاجر متوقف کرده بود. گفته شده است که این نوجوان این بس کوچک را قبل از ورود به آلمان، در حدود ۲۰۰ کیلومتری مرز آلمان-پولند تسلیم شده بود .

**۲۳ مهاجر از سوریه و ۴ مهاجر از یمن اند. پولیس همچنین دو مرد دیگر را (۲۵ و ۲۷ ساله) در اواخر شب دستگیر کرد که اندکی قبل در همان مکان با یک موتر از مرز آلمان عبور می کردند. براساس اظهارات یک سخنگوی پولیس این دو مرد مظنون به دست داشتن در قاچاق و رابطه داشتن به مورد نوجوان سوریایی اند. آنها به ماموران پولیس گفتند که در پولند برای تانک کردن موتر شان رفته بودند.**

## لتونی گذرگاه مرزی با بلاروس را بست

مهاجرنیوز




**در واکنش به تعداد فزاینده تلاش های غیرقانونی برای عبور از گذرگاه های مرزی، لتونی یکی از دو گذرگاه مرزی خود را با کشور همسایه اش بلاروس به طور موقت بسته است.**

**حکومت این کشور عضو اتحادیه اروپا و ناتو روز سه شنبه در ریگا تصمیم گرفت که گذرگاه مرزی "سیلن" را تا اطلاع ثانوی ببندد. دیگر گذرگاه ها بین لتونی و بلاروس باز می مانند و ترافیک مرزی نیز از طریق این گذرگاه ها هدایت می شود. ریهاردز کوزلوفسکی وزیر داخله لتونی توضیح داده است که این امر به پرسونل اجازه می دهد تا از مرز "سبز" بیشتر نظارت و محافظت کنند.**

**لتونی اخیراً تعداد قابل توجهی از تلاش ها برای عبور غیرقانونی از مرز را ثبت کرده است. وزیر داخله لیتونی گفته است که "فشار مهاجرت های غیرقانونی در مدت زمان کوتاهی سه برابر شده است". او در ادامه گفته است که گارد مرزی لتونی در شش روز گذشته از ۸۹۴ عبور غیرقانونی از مرز جلوگیری کرده است. در تمام ماه سپتمبر تقریباً ۱۸۰۰ تلاش صورت گرفته است و در ماه آگست ۱۶۰۰ تلاش برای عبور از مرز ثبت شده است.**

**با توجه به این تلاش های غیر قانونی عبور از مرز، رئیس گارد مرزی بسته شدن گذرگاه مرزی "سیلن" را پیشنهاد کرد. لتونی، مانند پولند و لیتوانیا، الکساندر لوکاشنکو، رئیس جمهور بلاروس را متهم می کنند که مهاجران را به طور سازمان**

**یافته به سمت مرز خارجی اتحادیه اروپا هدایت می کند. بنابرین همه کشورها در حال حاضر حفاظت از مرزهای شان را تقویت کرده اند.**

**لیتوانیا و استونیا برای حمایت از لتونی هر کدام حدود ۲۰ مرزبان به کشور همسایه بالتیک فرستاده اند.**

## آلمان: ظرفیت پذیرش مهاجران به مرز نهایی رسیده است

دویچه وله



**فرانک والتر اشتاینمایر رئیس جمهور آلمان پیش از سفرش به ایتالیا خواستار کنترول مرزها و «تقسیمات عادلانه» مهاجران در اتحادیه اروپا شد .**

**رئیس جمهور آلمان روز چهارشنبه گفت که آلمان برای پذیرش مهاجران بیشتر با مشکلاتی مواجه است.**

**اشتاینمایر در مصاحبه با روزنامه ایتالیایی «کوریره دلا سرا (Corriere della Sera)» با اشاره به این که آلمان در نیمه اول سال ۲۰۲۳ یک سوم درخواست‌های پناهندگی در اتحادیه اروپا را دریافت کرده است، گفت: «آلمان مانند ایتالیا در مرز ظرفیت خود رسیده است«.**

**رئیس جمهور آلمان اذعان کرد که ایتالیا و آلمان «بارهای سنگینی را تحمل می‌کنند» و خواستار «تقسیمات عادلانه» فشار مهاجرت در اروپا شد. از سوی دیگر گزارش شده که دو حزب آلمان خواستار توقف برنامه پذیرش افغان‌ها می‌شوند.**

**اشتاینمایر خواستار «کنترول قوی‌تر» در مرزهای خارجی است**

**اشتاینمایر از روز چهارشنبه سفر سه روزه خود به ایتالیا را آغاز می‌کند و در آنجا با سرجو ماتارلا رئیس جمهور ایتالیا دیدار و از جزیره سیسیل در جنوب ایتالیا دیدن خواهد کرد.**

**مقامات ایتالیایی اخیراً انتقال تعدادی از مهاجران را از جزیره کوچکتر لامپدوسا به سیسیل آغاز کرده اند، جزیره‌ای که شمار بی‌سابقه مهاجران وارد آن شده اند.**

**اشتاینمایر برای محدود کردن تعداد افرادی که به اروپا می‌آیند، گفت که» کنترول و نظارت قوی‌تر در مرزهای خارجی ما« نیاز است.**

**ایتالیا و آلمان بر سر پذیرش مهاجران اختلاف دارند**

**رئیس جمهور آلمان تاکید کرد که ایتالیا نباید در مورد مسائل مهاجرت تنها بماند و از این کشور به دلیل متقبل شدن «مسئولیت بسیار زیاد بشردوستانه «تشکر کرد.**

**حکومت راستگرای ایتالیا به دلیل تصویب احکامی که حقوق مهاجران را محدود می‌کند و مانع ماموریت‌های غیرانتفاعی نجات در دریا می‌شود، مورد انتقاد قرار گرفته است.**

**چه کسی مسئول نجات مهاجران در بحر است؟**

**اشتاینمایر همچنین از حکومت‌های ایتالیا و آلمان خواست تا درباره اختلافات کنونی خود بر سر این موضوع به توافق برسند.**

**هفته گذشته آلمان پذیرش داوطلبانه مهاجران از ایتالیا را تا اطلاع بعدی به حالت تعلیق درآورد. وزارت داخله این کشور خاطرنشان کرد که ایتالیا خود از پس گرفتن پناهجویانی که طبق قاعده دوبلین مسئول رسیدگی به درخواست‌های پناهندگی آن‌هاست، خودداری می‌کند.**

**بحث در آلمان بر سر «سقف مهاجرت» دوباره تشدید شده است**

**چندین سیاست‌مدار آلمانی اخیراً پیشنهاد کرده اند که برای پذیرش سالانه پناهجویان در آلمان حد تعیین شود.**

**فریدریش مِرتس، رهبر اپوزیسیون محافظه‌کار گفته است که این محدودیت باید ۲۰۰ هزار تن در سال تعیین شود. نانسی فئزر وزیر داخله از حزب سوسیال دموکرات، چنین سقفی را رد کرده است**

**آلمان در سال ۲۰۲۳ حدود ۱۷۵ هزار درخواست پناهندگی دریافت کرده و بیش از یک میلیون آواره جنگ اوکرایین را پذیرفته است که شامل متقاضیان پناهندگی نمی‌شوند .**

## اطلاعیه وزارت کار وامور اجتماعی

آژانس اطلاعاتی باختر




آغاز وختم کار کنان ادارات امارتی مرکزی و ولایتی از تاریخ ۸ ربیع الاول سال ۱۴۴۵ هجری قمری مطابق اول میزان سال ۱۴۰۲ هجری شمسی الی ۹ رمضان المبارک ۱۴۴۵ برابر به ۲۹ ماه حوت طورذیل تنظیم گردیده است:
ازشنبه الی چهارشنبه آغازکار ساعت ۸:۳۰ صبح و ختم کار ساعت ۳:۳۰ بعداز ظهر با داشتن یک ساعت وقفه از ساعت ۱ الی ۲ بعد از ظهرجهت ادای نماز وصرف طعام.
روزهای پنچشنبه آغاز کار ساعت ۸:۳۰ صبح و ختم کار ساعت ۱:۳۰ بعداز ظهر بدون وقفه.
موسسات تولیدی، خدماتی، بخش های دایما فعال ، موسسات نشتراتی ، صحی، معارف و تحصیلات عالی با درنظر داشت خصوصیات کار، شرایط اقلیمی ، لوایح ومقررات مربوط، وقت آغاز وختم کارکنان شان را درشش ماه دوم سال درهفته ۳۵ ساعت تنظیم نمایند.